محمد هارون خپل شعشعي


۱۹ جون ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۵۴

**۱۱۶- شهو د يا مُشاهَدَه :**

مشاهده له لغوي اړخه، په سترګو ليدلو، شهادت ورکولو، څارولو او داسي نورو ته وايي[۱] . په « فرهنګ لغات و تعبيرات عرفاني » کي، حق ته د حق ښکاره کېدل، د شهود يا مشاهدې په نامه ياد سوي دي، چي د حضرت د و جود ځانګړتيا ده؛او په مجمل کي يي مفصل شهود، د احديت په ذات کي، د کثرت څرګندونه ګڼلي ده [۲] .

مشاهده، د تصوف اوعرفان په نړۍکي، د عيني او قلبي کتني تر منځ، د پيوستون يا وصال حالت ته وايي . ددي خبري مانا دا ده، چي عرفاني سالک په زړه کي داسي وړانګي اوجلوې ګوري؛ لکه محبوب چي يي سترګو ته مخامخ ناست يي (وي) .

عارفانو، د رسمي او ظاهري عُلومو له منلو؛ او د عقل او استدلال ارزښت ته له سر تيتولو سره سره، د حضوري اړيکو پر اصالت او لومړي توب ډېر ټينګار کړئ دئ . هغوی له مکاشفاتو او مشاهداتو څخه ترلاسه سوي علوم، د عقلي دليلونو تر نتيجو ډېر غوره ګڼي . د دوی له نظره، د انسان حسونه او د هغه عقلي ځواک، له بهرنی دنيا، ماهيتونو او تعيناتو سره سروکار لري؛ خو انسان يوازي د باطن له لاري کولای سي، د جهان له واحد حقيقت سره حضوري او شهودي اړيکي پيدا کړي . دا موخه او مقصد يوازي هغه مهال ترلاسه کيږي، چي انسان د ظاهري اړيکو له اغيزي ژغورل سوی يي . يا په بله ژبه انسان په يوازيتوب سره، د يوه په لټه کي يي .

زموږ نکته بين عرفاني شاعر ، علي محمد مخلص، په يوه غزله کي داعرفاني نظريه بيانيي، چي زړه په همېشني ذکر سره د هينداري په څېر ځلا مومي . د عارف پر زړه د الهي انوارو دا تجلا، هغه ته نه يوازي د

د دواړو جهانونو د ټولو پټو حقیقتونو د پوهېدو لاره پرانیزي، بلکي کامل او ازاد عارف د دي انوارو په مرسته د خپل یوازني معشوق او معبود د لیدو وس مومي :

چي د زړه آینه صفا، کدورت ورک شي
دواړه کون به پکښي و ګوري انور ته
زړه بې حد لطیف دریا ګوره بې مثله
دواړه کونه یو حُباب وینه اصغر ته
***
که د زړه آرسی روښانه کړې په ذکر
د یار مخ به پکښي ووینې اظهر ته

بل ځای، د حق تعالی د بېلابېلو صفتونو په باب فکر، د هغه باطني څراغ په شان بولي، چي د هر ډول تیارو پردې لیري کیږي؛ اود ذوالجلال د بې مثله ذات په اړه د عارف د زړه سترګي پرانیزي :

که ته یو زمان په فکر د صفات شي !
په صفات کښي به بینا د حق په ذات شي !
***
دباطن چراغ دئ فکر په خاطـر کښي
د چراغ په نور به خلاص له ظُلُمات شي !

**لمنلیکونه**

١ عمید ٣: ٢٢۴٩ ؛ .Wehr 489

٢ سجادی ٢٩٣.

**١١٧- صبر :**

صبر، چي په لُغت کي زغم او تحمُل ته وایي، د تصوف او عرفان له پلوه، ډېر لوړ مقام دئ . د عرفاني مشایخو په عقیده، سالکان باید په ډېر زغم، متانت او تحمل سره خپل عرفاني سیر او سلوک، پر مخ بوزي[١] .

د صبر او زغم عرفاني مسأله دسپېڅلي قرآن په بېلابېلو آیتو کي له پوره تفصیل او جزییاتو سره بیان سوې ده؛ د مثال په توګه د بقرې د سورې په دوهم، پینځه څلوېښتم او دوه سوه پینځوسم آیت؛ د اعراف دسورې په یوسلو شپږ ویشتم آیت؛ د یوسف د سورې په اتلسم او درو اتیایم آیت؛ د نحل د سورې په یوسلو اووه ویشتم آیت؛ د کهف د سورې په اووه شپېتم، دو اویایم، پینځه اویایم، اته اویایم،او دواتیایم آیت؛ د معارج د سورې په پینځم آیت؛ د بلد د سورې په اوولسم آیت؛ او د عصر د سورې په دریم آیت کي د صبر او صابر د لوړو ښېګڼو په باب پراخي یادوني او لارښووني سوي دي .

د بقرې د سورې په یو سلو درو پینځوسم آیت ( ٢: ١۵٣) کي د صبر او صابرانو په اړه داسي راغلي دي : « یاایهاالذین آمنو استعینو بالصبر و الصلوة ان الله مع الصابرین[٢]. » د همدي سورې په پینځه څلوېښتم آیت ( ٢: ۴۵) « واستعینوا بالصبر والصلوة وانها لکبیرة الا علی الخاشعین » کي بیا هم په صبر او لمانځه د خدای

تعالی د مرستي؛ او د خدای عاجزو بندګانو ته د صبر او لمانځه د اسانی خبره سوي ده . د معارج د سورې په پینځم آیت ( ۷۰: ۵) « فاصبر صبرا جمیلا » کې د اسلام ستر پیغمبر -حضرت محمد ( ص ) ته د صبر کولو امر سوئ دئ؛ او صبر په خپله، د ښایسته او غوره عمل په توګه یاد سوئ دئ . په سختیو او خواریوکي د صبر او زغم د ارزښت په اړه د رسول الله ( ص ) په یوه حدیث کې داسي راغلي دي : « من لم یحتظ بضرب الحبیب فلیس محب » یاني هغه څوک، چي د یار په وهلو ( درد او رنځ ) خوښ نسي، هغه دوست نه دئ[۳].

صبر، ریښتیا هم ډېر تریخ او ربړونکئ دئ؛ یوازي د حق دلاري مینان، د هغه په خوشالی او سوکالی پوهیږي؛او خوږي مېوې ته یې انتظار ایستلای سي .

زموږ عارف شاعر، علي محمد مخلص، هم د صبر د لوړي درجي په باب ژور او خونده ور سوچونه لري . په یوه غزله کي صبر دمعرفت مقام ګڼي؛ او داسي یې را پېژني :

ځلورم مقام د صبر، دی شه تـریخ لـــکه مصبر
صابران په بلا خوښ دي فریاد نه که له عِلّته
دامقام دمعرفت دئ په هرحال کښي یي رؤیت دئ
په تپه به د ایوب شي د صابرو له حالـتـه

په بله غزله کي د صبر، قناعت او رضا ډېوه، له هري بلا څخه د ژغورني وسیله بولي :

قناعت، صبر، رضـــا غواړه له خدایـــه !
قانع دل، صابر، راضي خلاص له بلا شـــي

بل ځای، صابران د هغو لوړو او غښتلو کسانو په ډله کي يادیي، چي نه یوازي له هیڅ درد او بلا شکوه نه کيي(کوي)، بلکي په میني او خوښی د هري بلا او هر درد و مقابلي ته وردانګي :

کم همت په عافیت، تندرستـی خوښ دئ
په بلا، درد و محنت دي صـابران خوښ

**د نورو مالوماتو دپاره وګورئ : پرهېزګاري، تسلیم، توبه، توکل، درد او بلا، رضا، ریاضت، شکر ، مقام او حال .**

**لمنلیکونه**

۱ نیرومند محقق ۲۰- ۲۱ .

۲ ژباړه : اي مؤمنانو! په صبر او لمانځه سره مرسته وغواړئ . په ریښتیا سره الله تعالی د صابرانو ملګری دئ .

۳ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۱۸۱.

پاته لري